**د اسلام حقانیت د هره پېښې پر وړاندې روښانه کېږي**

**خبر:**

امریکايي نیوزویک مجله: « د اسلام پیغمبر لومړنی کس و، چې له نیژادپالنې او غلامۍ سره یې مبارزه وکړه.» (سرچینه: د الجزیره، ۲۰۲۰ م کال د جون ۱۳مه)

**تبصره:**

امریکايي کاتولیک اکاډمۍ په "نیوزویک" مجله کې مقاله خپره کړې، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم غوره شخصیت او انسان پالنه یې پکې ذکر کړې ده. همدارنګه په دې مقاله کې یې د ساري ناروغیو پر وړاندې د هغه لارښوونې هم په ګوته کړې دي.

دوکتور کریچ کونسیدین لیکونکی او د ادیانو د اړیکو په برخه کې متخصص څېړونکی وایي: «د اسلام پیغمبر لومړنی کس و چې د بشریت په تاریخ کې یې له نیژاد پالنې او غلامۍ سره مبارزه وکړه.»

د (انسانیت محمد ...) کتاب لیکونکی زیاتوي چې دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له شخصیت او خبرو اغېزمن شوی او پخپلو مقالو کې د هغه صلی الله علیه وسلم له احادیثو څخه ګټه اخلي. ډېری وخت کله چې هغه له بحران سره مخ کېږي او هېڅ حل لاره پیدا نه کړي، ډېری غربي متفکرین ویني، چې هغوی حیرانېږي چې ۱۴ پېړۍ وړاندې د اسلام په مبارک دین کې داسې حل لارو شتون درلود.

تر هغه چې د یو دولت په چوکاټ کې قدرت شتون ونه لري، څو اسلامي فکرونه د غرب لور ته ولېږدوي، خپل سیاسي قدرت او له نړیوال وزن څخه کار وانه خلي، څو غرب د سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي نابرابریو، د خلکو د شتمنیو لوټلو، د سود او د نیژادپالنې پرېښود ته اړ نه کړي، دغه امر به یوازې د تحسین په چوکاټ پاتې شي. اسلام دا ټول موارد په کلکه ردوي.

هغه وخت به د اسلام احکام او افکار نه یوازې د ځینو متفکرینو په ذهن کې پاتې شي، بلکې په ټولو غربي سیاستوالو او  خلکو کې به د وزن او قوت لرونکي شي.

هر کله چې خلک د سودي بانکونو په اور سوزي، لاریون کوونکو د اسلام د احکامو تصویب کېدو غوښتنه کوي، چې سود حرام بولي.

په همدغه اساس، په غرب کې داسې قدرتونه رامنځته شوي، چې د اسلام د واکمنېدو غوښتنه کوي او د خلافت بهرنی سیاست دا زمینه ورته برابروي.

**ژباړن: الهام پردېس**